فیچر

# عبدالقادر بابا
## د قام د مینې ژوندے تصویر

امجد شهزاد

په اتلسم اګست ۲۰۰۹ء د خان عبدالولي خان د ملټي پلیکس د تېرې اېښودو په دستوره کښې چې د بېګم نسیم ولي خان نه واخله تر افراسیاب خټک، غلام احمد بلور، بشیر احمد بلور، هاشم بابر، وزیراعلي امیرحېدر خان هوتي او د عوامي نېشنل پارټۍ نور صوبائي او مرکزي مشران شریک وو. د دغه پُر رونقه او پُر وقاره تقریب صدارت د صوابۍ یو غریب خدائي خدمتګار عبدالقادر بابا ته وروبخښلے شو. وزیراعلي صاحب په خپله عبدالقادر بابا په ډېر عزت او احترام تر سټېج ورسوۀ. د عبدالقادر بابا په ذهن خدائے خبر د باچا خان کوم یادونه راتازه شو چې د سترګو نه ئې اوښکې رواني شوې. وروستو وزیراعلي عبدالقادر بابا ته یو اعزازي شیلډ هم ورکړو.

هم دغه عبدالقادر بابا نن زمونږ سره د "پښتون" د لوستونکو د پاره خپل زاړۀ یادونه راتازه کړل او مونږ ته ئې په نمژنو سترګو د خدائي خدمتګارو او باچا خان د عزم، حوصلې او ولولې او د ازادۍ د مبارزې ډېرې قیصې وکړې.

عبدالقادر بابا د صوابۍ ضلعې د باجا کلي د بره عثمان خېلو تپه کښې په ۱۹۳۲ء کښې په یوه غریبه کورنۍ کښې پېدا شوے دے. دا هغه وخت ؤ چې خدائي خدمتګار تحریک ښۀ په زور شور کښې روان ؤ. د ټکر او قیصه خوانۍ د شهیدانو قیصې لا تازه وې. عبدالقادر بابا وائي چې زۀ ډېر وړوکے وم نو زمونږ د کور او کلي مشران به چې سحر وختي په سرو جامو کښې سړک ته ووتل او پرېډ به ئې وکړو بیا به واپس راغلل، سره وردي به ئې بدله کړه او په خپل خپل کار روزګار پسې به ووتلل او کله چې به په دوي پسې وارنټ ؤ نو د هدایاتو مطابق به د کلي غرۀ ته تلل او هلته به د پوځ او پولیس نه روپوش وو. یوه ورځ چې هم دغسې د هغۀ پلار او ترونه غرۀ ته تللي وو او هلته د پولیس د ګرفتارۍ نه روپوش شوي وو نو پولیس راغلۀ او د هغۀ د نیکۀ نه ئې د زامنو، خوریونو او نورو کشرانو په حقله تپوسونه کول چې چرته پټ دي او دغه وخت پولیس نۀ صرف د هغۀ د نیکۀ بې عزتي وکړه بلکې په هغۀ ئې تشدد هم وکړو. دا د عبدالقادر بابا د ډېر ماشومتوب هغه یادونه او نظارې دي چې د هغۀ په زړۀ او ذهن نقش پاتې شوې دي او د هغۀ په سوچ، فکر او نظریه جوړولو کښې ئې لوئے رول لوبولے دے.



هغه وائي چې ما ته به مې مور وئیل چې تۀ صرف د دربو کالو وې نو لښته به دې

ونیوه او وئیل به دي چې ډېر زړه به پېرنګیان داسې ولم او د دې ځائے نه به ئې شرم.

۱۹٤۰ء خواوشا کښې صوابۍ باجا کلي کښې د باچا خان جلسه وه، عبدالقادر بابا هغه وخت د اتۀ نهۀ کالو ؤ چې په وړومبي ځل ئې بابا ولیدو او د هغۀ تقریر ئې واورېدو او هغه ورځ شوه او نن عبدالقادر بابا خپل ځان خدائي خدمتګارۍ ته وقف کړو.

عبدالقادر بابا شپږ ځله د باچا خان سره افغانستان ته تلے دے او هلته نۀ صرف د افغانستان په هر ولایت، هر ښار، هر کلي ګرځېدلے دے او خلقو ته ئې د امن، میني او ورورولۍ پېغام رسولے دے بلکې د شاه ظاهر شاه، صمد خان اچکزي سره هم وخت په وخت باچا خان تر څنګه ډېر نزدې پاتې شوے دے.

عبدالقادر بابا به په افغانستان کښې د باچا خان او نورو قام پرستو مشرانو د تقریرونو پمپلټونه، د افغان ملت اخبار خصوصي اشاعتونه کوزې پښتونخوا ته راوړل او دلته به ئې خورول او دا مبارزه دۀ د ایوب خان په مارشل لاء کښې هم جاري ساتلې وه.

"پښتون" چې کله د عبدالقادر بابا نه د قېدوبند په حقله تپوس وکړو نو وې وئیل چې اتفاقاً د ایوب په دور کښې زۀ د قېدوبند نه بچ پاتې شوے یم. د ضیاءالحق په دور کښې چې کله د مارشل لاء خلاف د ایم ار ډي تحریک روان ؤ نو هغې کښې عبدالقادر بابا هم ونیولے شو او د دلبر خان ټکر، بشیر مټه، فرید طوفان او نورو مشرانو سره څۀ دپاسه څلور میاشتې قېد وساتلے شو. دغه وخت باچا خان د خپشکو په ریسټ هاؤس کښې نظربند ؤ.

بله کومه واقعه چې دوي مونږ ته بیان کړه نو هغه یقیناً چې د حېرانولو ده. اوس اوس چې د جنرل پروېز مشرف د امریت خلاف کوم سیاسي تحریک چلېدو، عبدالقادر بابا پکښې هم په ډېر جوش او جذبه برخه اخستله او د پولیس د لاټې چارج زغملو سره سره ګرفتار هم کړے شو. کله چې مونږ هغوي ته ووئیل چې دغه وخت چې ستاسو عمر شپږ اویا کاله ؤ. په دې عمر کښې هم داسې فعال رول څنګه لوبوئ. بابا په ډېر عزم او حوصله ځواب راکړو چې باچا خان تر مرګه مرګه خپله مبارزه جاري ساتلې وه نو زۀ څنګه په ارام کښېنم، د باچا خان روح به زما نه تپوس کوي.

عبدالقادر بابا مونږ ته د باچا خان سره د ملاقاتونو ډېرې واقعې بیان کړې، وائي د مۍ په ۲۳مه نېټه کال ۱۹۸۲ء کښې زۀ د باچا خان ملاقات له راغلم، د ځان سره مې خپله ډوډۍ او د پیازو غوټه راخستې وه، باچا خان سره ناست وم چې هغۀ له هم ډوډۍ راوړې شوه، ما خپله د پیازو غوټه او ډوډۍ د پلیځکي نه راواخسته، دا مونږ ته باچا خان تعلیم راکړے ؤ چې چرته هم ځئ نو پۀ چا بوج کېږئ مۀ خو باچا خان په زور زور په ما د غوښې پُوټي وخوړل او زما د پیاز او ډوډۍ نه ئې هم وخوړه، بیا چې زۀ کور ته تلم نو د باچا خان د کور دوه ډوډۍ مې د ځان سره بچو له د تبرک او خوردې په توګه یوړې او کله چې زۀ واپس راتلم نو باچا خان راته ووې چې لاړ شې نو خلقو ته ووایه چې جنګ تورخم له راغلے دے کله به وینښېږئ او دا جنګ به د تورخم نه رااوړي او بیا به داسې تباهي کېږي چې څوک به خپلو مړو ښخولو ته هم نۀ جوړېږي کله چې عبدالقادر بابا زمونږ سره دا خبرې کولې هم په دغه

ورځ لږ وخت مخکښې د پېښور پیپل منډۍ چاؤدونه وشوه چې ۱۲۰ کسان پکښې مړۀ او بې شمېره ژوبل شو. بابا پۀ زړغوني اواز ووې چې اوویشت کاله وړاندې ماته چې باچا خان کومه خبره کړې وه، دا نن وګورئ، هم هغه کېږي.

۲۲ نومبر ۱۹۸۵ء کښې بل وار زۀ راغلم ماشوم زوے عنایت الله هم راسره ؤ، باچا خان محمد نارۍ کښې ؤ، خوک غېر ملکیان راغلي وو انټرویو ئې ترې کوله. د عبدالعلي خان زوي ناصر خان ورله زۀ بوتلم، بابا ماته هم هاغه خبرې وکړې چې ګرځئ او پښتنو ته نصیحت کوئ او بیا ئې ماله د ماشوم عنایت الله د تعلیم دپاره پېسې هم راکړې.

د "پښتون" د یوې پوښتنې په ځواب کښې دوي ووې چې کله د برصغیر وېش وشو او پاکستان جوړ شو نو د باچا خان وېناماته تر اوسه یاده ده، وئیل ئې د خپل کور وېش چې څوک د دښمن په لاس کوي او دا طمعه ترې هم لري چې دا به زمونږ د خېر دپاره وي نو دا ډېره ناداني ده. دښمن چرې د چا د ښې سوچ نۀ کوي، دا وېش زمونږ دښمن پېرنګي کړے دے نو دا به څنګه زمونږ دپاره ښۀ وي.



عبدالقادر بابا مونږ ته یوه بله واقعه دا هم بیان کړه چې کله باچا خان د افغانستان د اوږد قیام نه پس پاکستان ته واپس راتلو نو مونږ ورسره وو، باچا خان مونږ ته خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" حواله



کړےؤ او بیا بیا به ئې راته دا تاکید کولو چې دا کتابونه درنه ګډوډ نۀ شي، ماته، دلبر کاکا او د تاروجبې د بابو کلي عجب جرنېل (مرحوم) ته د کتابونو د راوړلو ذمه واري سپارلې شوې وه. دا کتابونه په ۵۳ بورو کښې بند وو، مونږ نه په تورخم کښې پاکستاني افسرانو دوه کتابونه د انوېسټېګېشن دپاره واخستل نور مو ولي باغ ته بابا له ورسول.

عبدالقادر بابا مونږ ته د باچا خان د کالاباغ ډېم خلاف د مهم هم ډېرې واقعې بیان کړې چې باچا خان به مونږ په سائیکل کرسۍ کښې ګرځولو او د پښتونخوا هرې ضلعې ته تلي وو. په حجرو، جوماتونو کښې به بابا خلقو ته د کالاباغ ډېم د نقصانونو تفصیل بیانولو او خلق ئې په دې پوهول چې کالاباغ ډېم د پښتنو تباهي ده.

مونږ د عبدالقادر بابا جذبې ته سلام کوو او هیله لرو چې دغه جذبه به نن هم هر پښتون کښې هم دغسې ژوندۍ وي او د خپلو قامي حقونو ګټلو دپاره به د هیڅ قسم قربانۍ نه ډډه نۀ کوي.